Social Sceince
AcademicJournal

لیډ د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# انتقادي تفکر او د افغانستان تحصیلي نظام

پوهنمل دوکتور نوراحمد اېمل[۱] او پوهندوی دوکتور احمد جاوید صدیقي[۲]
[۱]پښتو څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، هلمند پوهنتون
[۲]پښتو څانګه، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، بلخ پوهنتون
مسؤل ایمیل ادرس : imall1365@gmail.com

ترلاسه سوې: ۱۴۰۴/۰۲/۱۳ منل سوې:۱۴۰۴/۰۳/۲۵ خپره سوې: ۱۴۰۴/۰٦/۳۰ دثبت ګڼه: LSSAJ-2-1-01 مخونه (۱۲۸-۱۴۵)

**لنډیز**

په پښتو لیکوالۍ او څېړنو کې انتقادي تفکر ته په کمه کچه پام سوی دئ، اړتیا ده  چې دغه پدېده په پښتو لیکوالۍ، څېړنو او په ټوله کې د افغانستان په ښوونیز او تحصیلي بنسټونو کې په پام کې ونیول سي. پښتو ژبه کې همدا تشه د دې لامل سوې، چې تر همدې عنوان لاندې مقاله ولیکل سي، په دې مقاله کې انتقادي تفکر تشریح سوی او پښتو بېلګې یې وړاندې سوې دي. د څېړنې مېتود او ډول کتابتوني دئ او هڅه سوې چې د افغانستان په تحصیلي نظام کې د انتقادي تفکر اړتیا وڅېړل سي. د دې مقالې موخه دا ده چې انتقادي تفکر له یوې خوا په پښتو لیکوالۍ کې معرفي سي او له بلې خوا په تحصیلي نظام کې دې پدېدې ته پام را واړول سي. د دې څېړنې پایلې ښیي چې د افغانستان په تحصیلي نظام کې د انتقادي تفکر ودې ته جدي اړتیا لیدل کېږي. اړتیا ده چې په تحصیلي بنسټونو کې د لیسانس دورې په کچه انتقادي تفکر حداقل دوه کریډېټه تدریس سي چې زده کړیال وکولی سي د خپل او نورو د استدلال د کیفیت په اړه په دقیق او په عقلاني ډول  قضاوت وکړي، د استدلال، کمزورۍ او د قوت ټکي په سمه توګه په نښه او کمزوري برخې اصلاح او پیاوړې کړي.

**کلیدي کلمې:** تفکر، انتقادي تفکر، تحصیلي نظام، پښتو، لیکوالي

## سریزه

د څېړنې، زده کړو او لیکوالۍ برخې پوهان او متخصصین، د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د تفکر په ځانګړې توګه انتقادي تفکر په تدریس د ټینګار ترڅنګ، تفکر او انتقادي تفکر وده او پرمختګ  د زده کړو  له اساسي موخو څخه بولي ( شریعتمداري، ۱۳۹۱). د افغانستان په تعلیمي او تحصیلي بنسټونو کې یوه تر ټولو مهمه ستونزه د انتقادي تفکر نشتوالی دئ. په دې مانا چې زموږ په ښوونځیو او لوړو زده کړو مرکزونو کې د انتقادي تفکر تدریس نسته او په دې برخه کې جدي کار ته اړتیا ده. یو شمېر څېړونکو او د پوهنتون استادانو د دغه مهارت د زده کړې اړتیا نه

ده درک کړي. که چیري د زده کړو په بهیر کي انتقادي تفکر په پام کي ونه نیول سي په دې صورت کي د زده کوونکو او زده کړیالانو وضعیت روښانه دئ او یقیني ده چي په خپل او د نورو د استدلال او دلایلو د کیفیت په تشخیص کي به جدي ستونزه ولري. زموږ په ټول تحصیلي نظام ( لیسانس، ماستري، ډاکترۍ) کي زده کړیالانو ته حتی یو کریډېټ هم د انتقادي تفکر زده کړه او تدریس په پام کي نه دي نیول سوي. ممکن په ځینو درسي واحدونو لکه لیکوالي او څېړنه کي په تیت وپرک( غیرمنظم) او ډېر ابتدایي ډول د انتقادي تفکر یادونه وسي؛ خو دغه یادوني غیرمنظمي او دومره لږ دي، چي د زده کړیالانو د لیکوالۍ په برخه کي هیڅ ډول اغېز نه لري. زیات شمېر زده کوونکي او یو شمېر څېړونکي داسي تصور کوي چي باید په علمي مقالو، څېړنیزو لیکنو، مونوگرافونو، تېزسونو او ډیزرټېشنونو کي له شاعرانه تعبیرونو کار واخلو، یا هم گورو چي ځیني څېړونکي نسي کولی واضح لیکل وکړي، دا ټول د دې ښکارندويي کوي چي په پوهنتونو او علمي مرکزونو کي د لیکوالۍ تدریس نامنظم او د زده کړیالانو اړتیاوي نسي پوره کولی.

دي ته مو باید پام وي، چي انتقادي تفکر او نقادانه لیکني اصول د پوهنتوني لیکوالۍ بنسټ دئ. وضاحت، دقت، صحت، پراخوالی، عمق، بې طرفي او داسي نور موارد د نقادانه تفکر معیارونه دي. دغه برخي چي په پوهنتوني لیکوالي کي ډېري مهمې دي د دې لیکني په راتلونکو برخو کي تشریح سوي دي. که چیري علمي څېړني دغه اصول په پام کي و نه نیسي، علمي اعتبار به یې کم وي. وړاندي د نقادانه تفکر اصول مشخص کیږي او په دې به خبري وکړو چي نقادانه لیکنه کومي ځانگړني لري.

د څېړونکي او د نصاب ستر متخصصین د تفکر پر ارزښت د ټینگار ترځنگ، د هغه روزل په علمي مرکزونو کي له اصلي موخو څخه بولي. له همدې امله علمي مرکزونه باید، زده کړیالانو ته د اطلاعاتو د یوازي لېږد پرځای، په هغوی کي د تفکر د روزني زمینه برابره کړي.تفکر په ځانگړې توگه انتقادي تفکر، په خپله نه روزل کیږي، نو اړینه ده چي په عملي او نظري ډول تدریس سي. دغه مقاله د انتقادي تفکر مؤلفې او د تدریس په څرنگوالي او روزني باندي خبري کوي.

**۱-۱. نقادانه تفکر څه شی دئ؟**

نقادانه يا انتقادي تفکر[1] هغه مهارت دئ، چي افرادو ته زمينه برابروي چي د خپل او نور د استدلال د کيفيت په اړه کره او عقلاني قضاوت وکړي او د استدلال کمزوري ټکي په ښه ډول وپيژني. په دې توګه څېړونکي او ليکوال د نقادانه تفکر له اصولو سره د بلدتيا په صورت کي د خپل استدلال د ضعف ټکي په سمه توګه پيژندلی سي او د هغو د پياړتيا لپاره اقدام کولی سي.

د نقادانه تفکر لپاره بېلابېل تعريفونه او مؤلفې وړاندي سوي، چي هر تعريف په خپل ځای د ارزښت وړ دئ. پاول او الډر په دې برخه کي پياوړي شخصيتونه دي او د انتقادي تفکر په اړه يې جدي او د ارزښت وړ څېړني کړي دي. په وړاندي سو و تعريفونو کي مشترک ټکي زيات دي. د دوی په اند (( نقادانه تفکر هغه مهارت دئ چي فکري پروسې تحليل او ارزونه يې کوي، په دې مانا چي دغه تحليل او ارزونه د انتقادي تفکر په مرسته دغو فکري پروسو ته وده او پرمختګ وربخښي)) . د دوی په اند انتقادي تفکر زموږ په فکري مسير کي منفي برخي کموي او مثبتي او پياوړي برخي نوري هم پياوړي کوي (paul and Elder, 2020:9).

په بله وينا انتقادي تفکر هغه مهال پيلېږي، چي کله موږ د خپل فکر په اړه فکر کول پيل کړو، د خپل فکر په اړه د دې لپاره فکر کوو چي د خپل فکر کمزوري برخي او نيمګړتياوي له مينځه يوسو، دا چي زموږ په فکري پروسو کي کمزوري ټکي نه وي، اړتيا ده چي په خپل فکر يو ځل بيا فکر وکړو او هغه کره او دقيق کړو، چي دا کار روزني ته اړتيا لري(Paul and Elder, 2020:6).

انتقادي تفکر د شخص فکر او فکري پروسو ته لار ښوونه کوي او پياوړې برخي ور اضافه کوي او کمزوتياوي يې له مينځه وړي. انتقادي تفکر په خپل ځان ارزونه کوي، ځان اصلاح کوي، او انتقادي تفکر ليکوال او څېړونکي ته دا وړتيا ورکوي چي په ځانمحورۍ او ټولنيمحورۍ غلبه وکړي (Paul and Elder, 2020:9).

په دې توګه انتقادي تفکر يوازي تفکر نه دئ، بلکي د تفکر په اړه تفکر دئ. څوک چي دغه مهارت لري خپل فکر د ارزيابي کولو له لاري اصلاح کوي. هغه څوک چي داسي ځانګړني ولري په نامنظم او تيتوپرک ډول فکر نه کوي او د تفکر اصول ليکوال ته د تفکر روښانه پايلي له وړاندي په ډاګه کوي. په دې مانا چي د هغه شخصي ايدئولوژي او انګيزه د هغه د فکر په منلو او نه منلو کي اغيز نه لري. څوک چي د انتقادي تفکر ځانګړنه او مهارت ولري تل خپل فکر ارزوي

[1] Critical thinking

او د اړتیا په صورت کې یې اصلاح کوي. د پاول او الډر په اند، داسي یو شخص مستدللو پایلو ته رسېږي او هغه د اړوندو معیارونو له مخې ازمایي (( اړونده ډېټا راټولوي او ارزونه یې کوي)) . د مختلفو فکري نظامونو، له فرضیو څخه د پېژندني او ارزني له مخي او د استدلال د پایلو له مخي فکر کوي. په دې توګه هغه له مختلفو لیدلورو او د مختلفو مفروضاتو له مخي موضوعاتو ته کتنه کوي او پایلي یې ارزوي. په بله وینا د هېڅ یوه لیدلوري په وړاندي متعصب نه دئ، هر لیدلوری په کره ډول ارزوي، مثبتي او ښې خوا یې را اخلي. (براون او کیلي،۱۳۹۲: ۵ ) د نقادانه تفکر لپاره دري مؤلفي وړاندي کړې چې په لاندي ډول دي:

الف. له اړوندو نقادانه پوښتنو سره بلدتیا؛

ب. د دغو پوښتنو د پوښتېدو او په مناسبو وختونو کې د هغه لپاره د ځواب ویلو وړتیا لرل؛

پ. له دغو پوښتنو څخه د فعالانه استفادې لپاره لېوالتیا؛

دغه پوښتني په لاندي ډول دي ( براون او کیلي،۱۳۹۲: ۵):

۱. مسُله څه ده او مدعا (=پایله) کومه ده؟

۲. د استدلال دلایل کوم دي؟

۳. کومي کلمې یا عبارات مبهم دي؟

۴. د تضاد ارزښتونه او ارزښتي فرضیې کومي دي؟

۵. توصیفي فرضیې کومي دي؟

٦. په کار کې کومه ستونزه سته؟

۷. شواهد تر کومي کچې دقیق دي؟

۸. بدئلو لاملونو ته اړتیا سته؟

۹. وړاندي سوي شمېرې تېر ایستونکي نه دي؟

۱۰. کوم مهم اطلاعات نه دي بیان سوي؟

۱۱. کومه بله معقوله مدعا (=پایله) کیدی سي طرحه سي؟

د دغو پوښتنو ارزښت تر ډېره په نقادانه لوستنه کې روښانه کیږي، که چیري د لیکوال له لیده د لوستونکو اړتیاوو ته پام وکړو، لیدل کیږي چې دغه پوښتني د لیکوال لپاره هم د لارښود حیثیت لري.

بېلابېلو څېړونکو د نقادانه لیکوالۍ د اصولو په اړه، چې په حقیقت کي د نقادانه تفکر د اصولو له مخي لیکوالي ده، خپل نظریات وړاندي کړي دي.

نوسیچ[2]، چې د انتقادي فکر په برخه کي ستر شخصیت دئ، په یوه ځانګړي اثر کي یې د نقادانه لیکوالۍ په اړه بحث کړی دئ، نوموړي په خپل دې اثر کي نقادانه تفکر د لیکوالۍ او څېړني له مهمو اصولو څخه یاد کړی او ویلي یې دي چي په اوسنیو علمي څېړنو او لیکنو چي انتقادي تفکر ته پام ونه سي د هغې څېړني او لیکني کمزورتیا له ورایه ښکاري. بارنټ او بېداو[3]، د خپل اثر یوه برخه نقادانه لیکوالۍ[4] ته ځانګړې کړې. نوموړي ټینګار کړی چي په لیکوالي کي دا مهم اصل دئ، چي انتقادي تفکر ته زیاته پاملرنه وسي چي هم لیکوال او هم د لیکوال مخاطبین مهمو او کلیدي ټکو ته پام وکړي او کمزوریو ته متوجه سي. استوارټ او کیلي د نقادانه لیکوالۍ اصولو ته پام کول اړین بللي او د انتقادي تفکر پربنسټ لیکوالي یې ډېره ګټوره بللې ده.

### ۱-۲. د څو کلیدي اصطلاحاتو تشریح

په لومړي سر کي به څو کلیدي اصطلاحات تشریح کړو چي په په راتلونکو پاڼو کي په مکرر ډول راغلي دي. په دې برخه کي د مسٔلې، مدعا، استدلال او مغالطې اصطلاحات په لنډ ډول تشریح سي.

#### ۱-۲-۱. مسٔله

مسٔله[5] هغه برخه ده چي څېړونکی یې د حل په لټه کي دئ او هڅه کوي چي ځواب یې ترلاسه کړي؛ د براون او کیلي (براون:۱۳۹۲) په تعبیر پوښتنه یا نظري اختلاف چي د بحث او خبرو اترو لامل سي د مسٔلې په نوم یادیږي.

#### ۱-۲-۲. مدعا

مدعا[6] هغه ځواب دئ چي د څېړني په بهیر کي د مسٔلې لپاره ورکول کیږي.

#### ۱-۲-۳. دلیل او استدلال

[2] Nosich, 2002
[3] Barnet and Bedau
[4] Critical thinking
[5] issue
[6] conclusion

دلیل هغه برخه یا برخې دي چې د مدعا د دفاع لپاره بیانېږي. هغه پروسه چې له دلیل څخه پایلي (مدعا) ته رسېږي هغې ته استدلال وایي.

### ۴-۲-۱. مغالطه

مغالطه[7] هغه ستونزه ده چې د استدلال په پروسه کې رامنځته کیږي. ځیني وخت مدعا لرونکی په عمدي ډول خپل مخاطب د استدلال د پایلي په اړه له غلطۍ سره مخ کوي او ځیني وخت بیا ممکن دغه ستونزه سهواً او په غیر عمدي ډول رامنځته سي. نقاد لیکوال/ ویناوال او نقاد لوستونکی/ اورېدونکی باید د استدلال په پروسو کې له دغو رایجو ستونزو څخه با خبره وي. لیکوال باید په دې پوه وي چې له سهوي خطاوو څخه مخنیوی وکړي او لوستونکي باید په دې پوه وي چې وکولی سي د لیکوال د مدعا لپاره منصفانه قضاوت وکړي چې له مخې یې هغه ومني او که یې رد کړي.

### ۳-۱. له انتقادي تفکر تر انتقادي لیکوالی

په دې لیکنه کې غواړو د انتقادي تفکر د اصولو له مخې نقادانه لیکلو باندې تمرکز وکړو، که یې په ساده ژبه بیان کړو په دې برخه هڅه کوو، چې تر یوې کچې د نقادانه لیکلو ځیني تخنیکونه او مهارتونه زده کړو. په دې مانا چې کله موږ د انتقادي تفکر اصول زده کړل د هغو په مرسته موږ ځیني په نقادانه یا د انتقادي تفکر په اساس لیکوالي کې استفاده کوو.کله چې له نقادانه یا انتقادي تفکر څخه خبري کوو کیدی سي داسي و انګېرل سي چې موږ د نورو د مدعاوو د ارزیابۍ په لټه کې یو. البته د انتقادي تفکر یوه موخه همدا ده. خو د پاول او الډر له خوا د وړاندي سوي تعریف له مخي، انتقادي تفکر یوازي د نورو د تفکر دارزولو لپاره نه دئ، بلکي زموږ د خپلو افکارو د ارزونی لپاره هم دئ. زموږ دافکارو بیروني انځور، لیک او خبري دي. که چیري زموږ فرضیه داسي وي چې تفکر د ژبې له لاري ترسره کیږي او موږ د تفکر پرمهال ژبه کاروو، کولی سو ووایو چې لیکل/ خبري کول له یوې‌خوا، او فکر کول له بلې‌خوا د یوه څيز یا یوې پدیدې دوه اړخونه دي؛ په دې توګه د انتقادي تفکر له مخې لیکل، د کاغذ پرمخ د انتقادي تفکر انځور دئ.

[7] fallacy

نوسيچ (۲۰۰۲)، د پاول او الډر د انتقادي تفکر د اصولو له مخې، د نقادانه فکر پربنسټ ليکوالۍ باندې بحث کوي. وړاندې دتفکر په عناصر خبرې کوو له هغې وروسته له دغو عناصرو څخه دنوسيچ په ميتود بحث کوو ( نوسيچ، ۲۰۰۲).

**۱-۳-۱. د تفکر عناصر**

پاول او الډر د تفکر لپاره اته عناصر په پام کې نيولي دي. هرچيري او په هر ډول چې تفکر کوو دغه اته عناصر په کې وجود لري (Paul and Elder, 2014: 91).

موږ د فکر کولو پرمهال، مفاهيم، ليدلوري او نظريې کاروو، چې له مخې يې توکي، واقعيات او تجربې د پوښتنو د ځوابولو لپاره استفاده کړو. په دې سره د ستونزو حل او مسائل تفسير کولی سو.

د تفکر د ارزيابۍ پرمهال بايد دغو عناصرو ته پام وکړو دغه اته عناصر په لاندي انځور کې د ليدو وړ دي:




شکل۱. د تفکر عناصر(اقابابايي او زماني،۱۴۰۲)

تر ټولو لومړی اړتیا ده چې په پورتنی شکل کې د ترښت یا چاپېريال ((بافت)) اصطلاح تشریح کړو. بافت د تفکر چاپیریال دئ (( هغه چاپېريال چې تفکر په کې رامنځته کيږي)) ,Nosich) (2022: 50. د بېلګې په توګه کیدئ سي موږ د یو لړ ځانګړو خبرو یا هم پېښو شاهدان و او دغه خبري یا پېښې موږ اړ کړي چې د یوې ځانګړې پېښې په اړه سوچ وکړو. دغه موارد د تفکر بافت دئ.

نوسیج (The foundation for critical Thinking, 2022) په دې باور دي چې پورتني شکل کې ټول عناصر له اوو نورو عناصرو سره په ارتباط کې دي. د بېلګې په توګه که چیرې زموږ قصد په الف هیواد کې د ژوند د شرایطو ښه کول وي چې هغه هېواد د اوبو له بحران سره مخ وي. په دې توګه زموږ موخه د اوبو د ستونزو حل او د اوبو د کمښت په لاملونو پوهېدل دي. زموږ قصد په مفروض باندې اغېز کوي. په دې حالت کې زموږ مفروض دا دئ چې د اوبو کمښت د ژوند شرایط ستونزمنوي. د دې ترځنګ زموږ قصد، زموږ پوښتنې هم جوړوي. کیدئ سي زموږ پوښتنې په دې ډول وي،

د اوبو د کمښت لامل په څه کې دئ؟

د اوبو د کمښت د له منځه وړلو لپاره څه کول پکار دي؟

دغه قصد له مسُلې سره په مرتبطو مفاهیمو باندې اغېز کوي. له لومړینو مفاهیمو لکه ((اوبه)) او (( د اوبو کموالی)) نیولې بیا د څېړنې د نظري چوکاټ تر ټاکل کیدو پورې په ټولو دغو برخو اغېز کوي. موږ د خپل قصد له مخې تفکر او څېړنه کوو او له مخې یې د څېړنې لپاره توکي یا ډېټا راټولوو. په پایله کې زموږ قصد په غېر مستقیم ډول زموږ په استنباط، استلزام او د تفکر په پایلو اغېز کوي. ځکه د راټولو سویو توکو پر بنسټ پایلې او حل لارې استنباط کوو او له هغې وروسته د دغو استلزاماتو پایلې ترلاسه کیږي. دغه پایلې او لاسته‌راوړنې په لیدلوري هم اغېز کوي او د نړۍ په اړه زموږ په لید کې بدلون راولي. د بېلګې په توګه د څېړنې له ترسره کیدو وړاندې د ډېرو ستونزو په لاملونو نه پوهېدو؛ خو کله چې څېړنه ترسره سوه نه یوازې په دغو لاملونو پوه سوو بلکې د نړۍ په اړه زموږ لید د دغو نویو اطلاعاتو د ترلاسه کولو له مخې بدل سو.

حتی ویلی سو چې قصد په استنباط، استلزام او لیدلوري په مستقیم ډول اغېز کوي. لکه څنګه چې پورته وویل چې زموږ قصد او هدف د اوبو د کموالي ستونزې له منځه وړل دي؛ موږ په لومړي پړاو کې د وړاندې استدلال له مخې مخته ځو:

باید په الف هېواد کې د ژوند کیفیت ته ارتقا ورکړو.
که چیري کومه سیمه د اوبو له کمښت سره مخ وی، یقیني ده چې هلته د ژوندکیفیت ټیټ دئ.
الف هېواد د اوبو له کمښت سره مخ دئ.
په دې سره په الف هېواد کې د ژوند د کیفیت د ارتقا لپاره، باید د اوبو د کمښت ستونزه حل کړو.
زموږ قصد داسي استلزامات او پایلي لري؛ دا چې زموږ قصد په الف هېواد کې د ژوند د کیفیت ارتقا ده، دا د دې لامل کیږي چې په دغه هېواد کې د ژوند دټیټ کیفیت د لاملونو په اړه تفکر وکړو. قصد په لیدلوري باندي هم اغېز کوي. که فرض کړو چې ب شخص د یو لړ اطلاعاتو له مخي په دې پوهېږي چې په الف هېواد کې د ژوند کیفیت ټیټ دئ. هغه هوډ کوي چې د خلکو د ژوند کیفیت ته ارتقا ورکړي. دغه پروسه د هغه په لیدلوري باندي اغېز کوي او کیدئ سي هغه په دې برخه کې د سیاستوال، حقوقپوه، د اوبو د مدئریت کارپوه او داسي نورو اشخاصو له لیدلورو څخه د ژوند د کیفیت د ارتقا په برخه کې کار واخلي.

بل مهم ټکی چې نوسیچ ورته اشاره کوي هغه دا دئ چې د دغو اتو عناصرو له ډلي هر یو د پیل د ټکي په توګه په پام کي ونیول سي، هغه ټکی په اوو نورو عناصرو باندي اغېز کوي. د بېلګي په توګه په وروستي مثال کي مو ولیدل چې اطلاعات زموږ په قصد اغېز کوي. د یوې بلي بېلګي په توګه زموږ لیدلوري زموږ په قصد اغېز کوي. که چیري د اوبو د مدئریت د یوه کارپوه یا هم د یوه سیاستوال له لیدلوري دالف هېواد وضعیت ته کتنه وکړو، په دې صورت کې په موږ کې متفاوت قصد رامنځته کیږي. کیدئ سي لیدلوري یو څه ځانګړي کړو او څېړنیز چوکاټ هم په پام کې ونیسو. په ټوله کې د یوه ځانګړي لیدلوري ټاکل په نورو عناصر اغېز کوي.

### ۲-۳-۱. د نقادانه تفکر معیارونه (عام فکري معیارونه)

د تفکر عناصر، د تفکر په هر ډول کې موجود وي، د ورځنیو مسائلو له حل څخه نیولې تر پېچلو فلسفي مسائلو پوري؛ خو کیدئ سي زموږ د تفکر پروسه د نقادانه تفکر له اصولو سره همغږې نه وي. له همدې امله پاول او الډر (2014:127-140) د (عام فکري معیارونو[8]) تر عنوان لاندي د تفکر د ارزوني لپاره نهه معیارونه ټاکلي دي. نوسیچ ( ۱۵۱-۱۵۳: ۲۰۲۲) دغه معیارونه د نقادانه

[8] Universal intellectual standards

تفکر معیارونه بولي او یو بل معیار ور زیاتوي. په دې توګه باید د الف موضوع په اړه زموږ تفکر دغه معیارونه ولري: وضوح، صحت، دقت، ربط، منطقيوالی، عمق، پراخوالی، اهمیت، بې‌طرفي او کفایت.

**۱-۲-۳-۱. وضوح**

زموږ دتفکر او لیکنو بېلابېلي برخي باید واضح وي، زموږ اهداف، مدعا، دلایل، مفروضات، اصطلاحات او د تفکر بېلابېل اړخونه باید په داسي ډول بیان سي چي مخاطبین یا لوستونکي زموږ موخه او مقصد درک کړي. په دې مانا چي زموږ فکر او لیکنه باید په داسي واضح ډول بیان سي چي د ټولو لوستونکو او مخاطبینو ترمنځ د مقصود په درک کي همږغي ظ وي او پرته له ابهامه يې ټول درک کړي.

**۱-۲-۳-۲. صحت**

له صحت څخه موخه دا ده چي زموږ دتفکر هره برخه باید سمه وي. کیدئ سي د تفکر اصلي موخه په پوره ډول واضح وي؛ اما کره او سمه نه وي (Paul and Elder, 2014: 131). کیدئ سي زموږ استدلال له منطقي پلوه معتبر او پیاوړی وي، خو هغه مقدمات چي موږ تر پایلي او هدفه رسوي د ناسمې ډېټا له امله وي. معتبرو او لومړی لاس منابعو ته پام، د ډېټا او توکو په راټولولو په ځانګړي ډول د نمونه اخیستني په برخه کي اصولو او قواعدو ته پام او د استدلال داصولو په پام کي نیول هغه څه دي چي زموږ د تفکر او لیکني په صحت او کره‌والي کي ډېر د ارزښت وړ دي.

**۱-۲-۳-۳. دقت**

کیدئ سي زموږ ګزارې واضح او سمې وي، خو دقیقي نه وي؛ په دې مانا چي موږ خپله موخه په داسي ډول بیان کړو، چي ټول زموږ په موخه پوه سي او په دې برخه کي هېڅ ډول ابهام نه وي موجود، د دې ترڅنګ که چیري زموږ موضوع هم ریښتیني (د واقعیتونو له مخي) وي؛ خو دقیقه نه وي. د بېلګي په توګه د هغه مثال له مخي چي له دې وړاندي مو په الف هېواد کي د اوبو د کمښت په اړه وړاندي کړ، کیدئ سي کله هم دې ته د ورته نمونې په ډول یو څه بیان کړو: ((په الف هېواد کي د څکمې شوېدنه زیاته ده)) له دغي موضوع څخه زموږ موخه ټولو ته د درک وړ ده، خو کیدئ سي ځیني د ((څمکې شوېدنې)) په معنا پوه نه وي؛ په دې صورت کي باید هغه واضح کړو. د شواهدو له مخي زموږ موضوع په ظاهري ډول سمه ده. د دې باوجود، زموږ موضوع او وړاندي سوې خبره دقیقه نه ده. د دقت د زیاتوالي لپاره باید د داسي مواردو کمیت په دقیق ډول بیان کړو؛ د بېلګي په توګه د الف هېواد په ب ښتو کي په دومره کچه څمکه ناسته ده. د دقت په

زیاتوالي سره د موضوع د صدق او کذب په اړه اختلافات هم له منځه ځي. کیدئ سي ځیني افراد زموږ د مدعا په نقد کي ووایي چي په الف هېواد کي ځمکي ښوېدنه په زیاته اندازه نده بلکي ډېره کمه ده. په دې حالت کي زموږ د کمیت دقیق بیان، زموږ د مدعا د سموالي ښکارندویي کوي.

**۱-۳-۲-۴. تړاو**

کیدئ سي زموږ موضوع واضح، سمه او دقیقه وي، خو له موضوع سره تړاو ونه لري. د بېلګي په توګه، کیدئ سي زموږ موضوع د خوشحال بابا د شعر اغېز د هغه څخه پر وروسته شاعرانو وي، په دې صورت کي باید زموږ ټول استدلال په مسقیم او غیر مستقیم ډول له همدې موضوع سره په تړاو کي وي. په دې صورت کي بیا نه سو کولی چي ووایو، د ښوونځي په اوسنیو کتابونو کي د خوشحال بابا اثارو ته ډېر پام نه دئ سوی. ټول دلایل او توکي باید له اصلي موضوع سره په اړیکه کي وي او دا اړیکه هم باید په واضح ډول وي. په داسي مواردو کي د لومړنۍ فرضیې یا پوښتني لرل ډېر ګټور دي. لومړنۍ فرضه د دې لامل کیږي، چي موږ باید کومه ډېټا راټوله کړو. د لومړنۍ فرضیې له وړاندي کولو سره په داګه کیږي چي کومه ډېټا زموږ له څېړني سره اړخ لګوي او کومه ډېټا زموږ له څېړني سره په ارتباط کي نه ده. د بېلګي په توګه که چیرې موږ داسي یوه فرضیه ولرو (( له خوشحال وروسته شاعران د خوشحال د شعر له سبک څخه اغېزمن سوي دي))، په دې صورت کي موږ پوهېږو چي ډېټا د خوشحال بابا د اشعارو او له هغه را وروسته شاعرانو د شعرونو له مطالعې څخه ترلاسه کیږي نه د اوسنیو ښوونځیو له درسي کتابونو.

**۱-۳-۲-۵. منطقيوالی**

د هر فکري محصول یوه تر ټولو مهمه ځانګړنه د هغه منطقيوالی دئ. که چیري د یوې څېړنیزي مقالې لیکوال د منطقي استدلال په اصولو پوه نه وي، نه سي کولی له خپلي مدعا چي د څېړني په اړه ده دفاع وکړي. د ټولو څېړنیزو اثارو ( څېړنیزي مقالې، مونوګراف، تېزس، ډیزرټېشن) بنسټ استدلال دئ. هغه څه چي د څېړونکو نوښت بلل کیږي، د نوي مدعا طرحه ده، چي د ځانګړو پدئدئو په اړه یې وړاندي کوي. که چیري یو څېړونکی وغواړي په دې څېړنه وکړي، چي ولي د افغانستان په ښوونځیو کي د مهمو ادبي اثارو لوستو ته ډېر پام نه کیږي، لومړی باید د یوې فرضیې په قالب کي د هغه لاملونه بیان کړي، له هغې وروسته دي د فرضیې استلزامات او پایلیو له پیژندو وروسته بیان کړي ( منطقي پروسه)، له هغې وروسته د دغو استلزامات او پایلو لپاره دلایل وړاندي کوي او په پایله کي د سته ستونزو د لامل په اړه خپله مدعا وړاندي کوي، سره له دې چي پوهېږي

د هغه مدعا نه ده اثباب سوې. دغه پروسه چې د فرضي استدلال په نوم یادېږي، هغه میتود دئ چې په علّي استنباط کې ترې کار اخیستل کیږي. که چیرې څېړونکی داستدلال په اصولو پوه نه وي په دې صورت کې د سم او ناسم استدلال ترمنځ توپیر نه سي کولی. په دې ترتیب باید لیکوال/ویناوال او منتقد د استدلال له اصولو سره بلد وي چې وسي کولی د څېړنې مختلفي برخي او همدا ډول هر فکري محصول د همدې اصولو له مخي و ارزوي.

### ۱-۳-۲-٦. ژورتیا

ژورتیا د نقادانه تفکر یوه بله ځانګړنه ده. په دې چوکاټ کې  د تفکر/ څېړني ژوروالی ، په دې معنا دئ چې متفکر/ څېړونکی په دې بریالی سوی دئ چې د مسٌلې پېچلو برخو ته پام وکړي. د بېلګې په توګه، د هغه مثال له مخي چې د اوبو دکمښت په اړه له دې مخکې وړاندې سو، فرض کړئ چې یو شخص متوجه سو چې الف هېواد د اوبو له جدي کمښت سره مخ دئ. له هغې وروسته د دغې ستونزې د حل لپاره وړاندئز کوي چې په ښار کې داسې بنرونه نصب کړي چې له مخې یې خلک د اوبو په مصرف کې کموالی راولي او همدا راز د ټلویزیون له لارې دې خلکو ته تبلیغ وسي چې د اوبو په مصرف کې صرفه‌جویي وکړي. دغه وړاندئز له دې امله دئ چې د اوبو د ډول ډول مصرفونو له جملې یې یوازې د اوبو کورنی مصرف مشاهده کړی او تصور یې کړی چې د اوبو د کمښت لامل همدا کورني مصارفات دئ، که چیرې دغې مسٌلې ته یې لږ ژور فکر کړی وی، پوهېده چې اصلي ستونزه د کرهنې په برخه کې  یا هم  په ټوله کې د اوبو کموالی دئ.

### ۱-۳-۲-۷. پراخوالی

پراخوالی د انتقادي تفکر یوه بله ځانګړنه ده. د یوې موضوع په پراخه توګه څېړل، د هغې موضوع د ښه پېژندو لامل کیږي. په دې مانا چې په یوه موضوع کې د ژور تفکر ترڅنګ، که چیرې موضوع په پراخ ډول وڅېړل سي، یوه موضوع په هراړخیزه توګه پېژندل کیږي او هېڅ ابهام په کې نه پاتې کیږي.  د بېلګې په توګه که چیرې د خوشحال بابا  سبک یوازې د ادبي علومو له مخي څېړو، په دې صورت کې وایو چې د خوشحال بابا په غزل کې دومره استعاره او دومره تشبیه کارول سوې، کله چې خپلې دغه پایلې او لاسته راوړنې د ټولنپوهنې له اړخ سره ترکیب کوو، په دې مانا چې د خوشحال بابا سبک د ټولنپوهنې له مخي څېړو، په دې صورت کې متوجه کیږو چې د خوشحال بابا ادبي سبک له ټولنیزو لاملونو اغېزمن دئ. پراخوالی هغه څه دئ چې بیناالرشتوي ځانګو کې

یې د ترلاسه کولو په لټه کې یو. ډېری پوهان په دې اند دي، چې له یوه لیدلوري د یوې موضوع څېړل هغوی ته محدودي ځانګړني او اطلاعات په لاس ورکوي؛ خو کله چې یوه موضوع د بېلابېلو لیدلورو له اړخه وڅېړل سي او مختلف لیدلوري په کې ترکیب سي د هغې موضوع او پدئدې پراخ شناخت ته رسېږو.

**۸-۲-۳-۱ ارزښت او اهمیت**

د تفکر په ارزونه کې ارزښت او اهمیت بله مهمه ځانګړنه ده. له اهمیت او ارزښت څخه موخه داده چې موخې او مسلې ته په کتو، څومره توکي او ډېټا چې راټولو، هغه مفاهیم چې طرح کوو، قوي استدلال او هغه موارد چې زموږ موضوع لا روښانه کوي د اهمیت وړ دي. د بېلګي په توګه کیدئ سي زموږ له خوا ټول راټول سوي توکي په یو ډول زموږ له مسلې سره تړاو ولري؛ دلته مهمه دا ده چې ټول را ټول سوي توکي زموږ د مسُلې د حل لپاره د اهمیت او ارزښت وړ دي او کنه. د دې لپاره چې موضوع لږ نوره هم روښانه سي یو مثال په داسي ډول وړاندي کوو، که چیري یو څېړونکی وغواړي، چې په پوهنتوني نصاب کې د انتقادي تفکر په ارزښت څېړنه کوي، په دې صورت کې له انتقادي تفکر څخه د پوهنتون د ځینو لومړی درجه مدئرانو نه پوهاوی له موضوع سره یو ډول تړاو لري، خو د درسي کتابونو وضعیت، د استادانو وړتیا او د پوهنتون د وضعیت په پرتله په کمه کچه د ارزښت او اهمیت وړ دي.

**۹-۲-۳-۱ بې‌پرې‌توب**

بې‌پرې‌توب د انتقادي تفکر بله مهمه ځانګړنه ده. په انتقادي تفکر کې بې‌پرې‌توب په دې مانا دئ چې په څېړنه او لیکوالۍ، په ځانګړي توګه د څېړنو په پایلو کې پلوي ونسي او هېڅ ډول عاطفي او اعتقادي اړخ په پایلو اغېز ونکړي. موخه دا ده چې هرچا چې هر څه وویل نظر یې د احترام وړ دئ. که چیري د یوې علمي موضوع په اړه د څو اړخونو ترمنځ د نظر اختلاف وي، په دې صورت کې باید د اړخونو پلوي ونسي او په بې‌پرې ډول یې په اړه نظر څرګند سي، هېڅ ډول عاطفي چلند باید په پام کې ونه نیول سي. زموږ بې‌پرې‌توب ممکن د دې لامل چې موضوع په ډېر علمي ډول یوې پایلي ته ورسېږي. بله بېلګه، که چیري موږ له خوشحال بابا په را وروسته شاعرانو څېړنه کوو او دا ټکی په کې لټو چې ایا خوشحال بابا له خپل عصر په راوروسته شاعرانو اغیز کړی او کنه، په دې صورت کې باید موږ له خوشحال بابا سره چې کومه لېوالتیا لرو په دې موضوع کې په هېڅ ډول په نظر کې ونه نیسو. کومه فرضیه مو چې له وړاندي ټاکلې باید هغه په داسي ډول نتیجې ته ورسوو

چي په هغې کي هېڅ ډول پلوي نه وي. موږ ته باید دا مهمه نه وي چي خوشحال بابا په را وروسته شاعرانو اغېز کړی او کنه.

**۱۰-۲-۳-۱ کفایت**

کفایت( پوره‌والی او بشپړوالی) هغه معیار دئ چي نوسیچ د انتقادي تفکر په معیارونو ور زیات کړی دئ. له کفایت څخه موخه دا ده چي موږ د یوې موضوع ټول اړخونو په پام کي ونیسو او هېڅ یو مهم اړخ باید پاتې نسي. که بیا هم د خوشحال بابا په اړه یو مثال ورکړو او د هغه د سبک اغېزو له هغه په را وروسته شاعرانو کي لټو په دې صورت کي که چیري د کوم شاعر یوه سبکي ځانګړنه له نورو پخوانیو شاعرانو متاثره وي، په دې صورت کي باید موږ د خپلې لیوالتیا له مخې هغه خوشحال بابا پوري ونه تړو او هماغه څه وواېو کوم چي حقیقت وي. که چیري په ځېړنه کي دې ټکي ته پام ونه نسي څېړنه به نیمګړې وي، ځکه موږ به د څېړني ټول اړخونه نه وي را سپړلي او د کفایت معیار به مو نه وي رعایت کړی.

**۱-۴ انتقادي تفکر او د لوړو زده کړو نصاب**

انتقادي تفکر د معاصري ښووني بسنټ ګڼل کېږي، خو د افغانستان د تحصیلي نظام په اوسني جوړښت کي ورته کمه پاملرنه سوې ده. انتقادي تفکر د ژور تحلیل، ارزوني، او منطقي تصمیم نیولو بهیر دئ.انتقادي تفکر زده کړیالان هڅوي چي له تقلید پرته د معلوماتو تحلیل وکړي، شک وکړي، پوښتني راپورته کړي او خپل نظر ولري.د افغانستان تحصیلي نصاب تر ډېره د زده‌کړي پر اصولو ولاړ دئ. د مضمونونو منځپانګې معمولاً معلوماتي دي، چي تمرکز يې د شاګرد پر حفظ دئ ، نه تفکر او تحلیل دئ.

د استادانو لپاره محدودي مسلکي روزني، تقلیدي تدریسي طریقه، د معیاري ارزوني نه‌شتوالی هغه ستونزي دي، چي اوسمهال د افغانستان د لوړو زده کړو مرکزونه ورسره مخ دي. د افغانستان په تحصیلي نظام کي انتقادي تفکر ته هم اړتیا سته او هم د دې برخې عملي کول ډېري ګټې لري.
په معاصره نړۍ کي چي معلومات په چټکۍ بدلېږي، انتقادي تفکر د ژوند، کار، او مدني مشارکت لپاره حیاتي دئ. دا مهارت زده کړیالانو ته دا وړتیا ورکوي چي :
د اطلاعاتو له منځه دقیق معلومات وپېژني (Facione, 2011)
د افراطیت او ناسمو نظرونو پر وړاندي شک وکړي.

خپل فکر جوړ او دفاع یې وکړي.
ټولنیزي ستونزي تحلیل او حل کړي.
که چیري د افغانستان په تحصیلي نصاب کي انتقادي تفکر ته پام ونه سي لاندي ستونزي رامنځته کولی سي.
د خلاقیت او نوښت کمښت
د ناسمو معلوماتو لپاره ذهني چمتوالی
د بې بنسټه معلوماتو منل
د ټولنیزو بحثونو نشتون
لکه څرنګه چي د یونسکو راپور[9] (2021UNESCO, ) هم یادونه کوي، د افغانستان تحصیلي نظام د تفکر پر ځای د نقل پر اساس ولاړ دئ، چي د سولي، زغم، او ټولنیز مشارکت مفکورې په کښي کمزوري دي. د دغو ستونزو د حل لپاره یو شمېر سپارښتني کیږي:

**الف. د نصاب اصلاح:**

۱. تحلیلمحوره او او داسي محتوا زیاتول چي زیاتي پوښتني را وړلاړي کړي.
۲. د متن تر څنګ، د فکري څواک د روزولو برخي زیاتول.
۳. د متضادو نظرونو معرفي.
ب. داستادانو روزنه:
۱. د انتقادي تفکر تدریس لپاره روزل
۲.د "سقراطي طریقه" عملي تمرینونه
۳. د خلاقو تدریسي میتودونو ترویج
ج. د تدریسي سیستم اصلاح:
۱.د پرانیستو پوښتنو، لیکنو، او بحثونو ارزونه
۲.د یوازي ذهن د ارزوني پرځای د تحلیل ارزونه
انتقادي تفکر د افغان زده کړیالانو لپاره یوازي تعلیمي مهارت نه، بلکي د یوه ثبات لرونکي، سوله‌ییز، او مدرن افغانستان لپاره اساسي اړتیا ده. د نصاب اصلاح، د استادانو روزنه، او د تدریس او ارزوني نوي لاري کولی سي دا مهارتونه وروزي.

[9] UNESCO۲۰۲۱

په هېواد او بهر کې د علم د پرمختګ د لاملونو په اړه د ترسره سویو څېړنو له مخې، تر ټولو لومړی اړتیا دا چې ښوونیزو او د لوړو زده کړو نصاب نوی او د اوسني عصر له غوښتنو سره برابر سي. د دې ترڅنګ زموږ په نصاب کې د انتقادي تفکر زیاتوالی د علم په پرمختګ کې مرسته کوي او زده کړیالان په داسې ډول روزي، تر څو وتوانیږي چې په راتلونکو علمي موضوعاتو کې مخکښ وي.

## پایله

که چیري د علمي مرکزونو مسوولین، په ځانګړي توګه لوړو زده کړو وزارت غواړي چې اوسني زده‌کړیالان په راتلونکي کې د ټولنې لپاره ګټور شخصیتونه وي او همدا راز علمي مرکزونه خپلې دندې په بریالي ډول ترسره کړي، اړتیا ده چې په لیسانس دوره کې د انتقادي تفکر تدریس، روزنې او ودې ته ډېر پام وکړي. همدا ډول اړتیا ده چې په علمي اداروکې  داسې میتودونو پلې سي چې له مخې یې زده‌کړیالان وکولی سي د یو فکري روش له مخې زده‌کړې وکړي، ځکه زده‌کړه د یو فکري بهیر له لارې په سمه توګه ترسره کیږي.اړتیا ده چې زده‌کړیالان د اطلاعاتو او معلوماتو د ذخیرې پرځای، له هغو مسائلو سره،  سروکار ولري کوم چې د دوی په ورځني ژوند کې مهم دي. دغه مقاله په پښتو ژبه کې د انتقادي تفکر د معرفي او پېژندنې په برخه کې لومړنی ګام دئ چې په هغه کې د انتقادي تفکر اساسي او اصلي مفاهیم، همدا راز د انتقادي تفکر ارزښت او اهمیت په تفصیلي ډول بیان سوي دي. د دې لپاره چې د مقالې په متن کې یاد سوي موارد په درسي ټولګیو او ټولو علمي مرکزونو کې په پام کې ونیول سي، په زده‌کړه، څېړنه، تدریس او په ټوله کې د تحصیلي نظام په بریا کې به ډېر مهم رول ولوبوي. د انتقادي تفکر د ودې او پرمختګ لپاره اړتیا ده چې ټول علمي مرکزونه په خپلو تدریسي پروګرامونو کې د انتقادي تفکر ټول اصول په پام کې ونیسي.

انتقادي تفکر د معاصري نړۍ په تحصیلي بنسټونو کې ستر ارزښت ګڼل کیږي، چې د زده‌کړیالانو ذهني وړتیاوې، د پوښتنو کولو مهارتونه  او تحلیلي ځواک پیاوړی کوي. خو په افغانستان کې د تعلیمي نظام جوړښت تر ډېره د معلوماتو په لېږد تمرکز لري، نه پر تفکر او بیا په ځانګړي توګه انتقادي تفکر.

مقاله په انتقادي او مقایسوي ډول د هغو عواملو تحلیل وړاندې کوي چې ولې انتقادي تفکر تراوسه د افغانستان په تحصیلي نظام کې ځای نه دئ نیولی.په پای کې، دا مقاله استدلال کوي چې د انتقادي تفکر معرفي نه یوازې د زده‌کوونکو پوهه ژوره کوي، بلکې د ټولنې د مدني تحول، د

تصمیم‌نیوني د اخلاقو، او د معقولیت د ودي لپاره هم بنسټیز شرط ګڼل کیږي. د افغانستان د راتلونکي تحصیلي پرمختګ لپاره، د انتقادي تفکر بنسټیزول یو حیاتي ګام دئ.

## اخځلیکونه


Paul, R. & Elder, L. (2006). The Miniature Guide to Critical Thinking Concepts and Tools. Foundation for Critical Thinking.

Facione, P. A. (2011). Critical Thinking: What It Is and Why It Counts. Insight Assessment.

Shinwari, M. (2017). Challenges Facing Education System in Afghanistan. Afghanistan Analysts Network.

UNESCO. (2021). Education and Conflict in Afghanistan: A Situational Analysis. United Nations Educational, Scientific and Cultural Organization.

Ministry of Education – Afghanistan. (2018). National Curriculum Framework.

1. نصر، ك. س. (۱۳۹۳). تفکر انتقادئ در تعلیم و تربیت. تهران: انتشارات پژوهشگاه مطالعات آموزش و پرورش.
2. شریعتمداری، ع. (۱۳۹۰). مبانی فلسفی تعلیم و تربیت. تهران: انتشارات امیرکبیر.
3. قاسم‌زاده، م.، و غفاری، م. (۱۳۹۴). بررسی تأثیر آموزش مهارت تفکر انتقادئ بر خلاقیت دانش‌آموزان. فصلنامه مطالعات برنامه درسی، ۱۰(۳۸)، ۵۵-۷۲.
4. مهرمحمدئ، م. (۱۳۸۹). تأملی نظری در باب تفکر انتقادئ و نسبت آن با تعلیم و تربیت. فصلنامه نوآوری‌های آموزشی، ۹(۳۲)، ۷-۲۶.
5. سلطانی، ع. (۱۳۹۱). تفکر انتقادئ؛ چیستی، چرایی، چگونگی. تهران: انتشارات آگاه.
6. کریمی، ی. (۱۳۹٦). روان‌شناسیو تربیتی (جلد دوم). تهران: انتشارات سمت.
7. احمدئ، ح.، و جعفری، ع. (۱۳۹۵). آموزش تفکر انتقادئ و نقش آن در رشد عقلانیت. فصلنامه تعلیم و تربیت، ۲۵(۱)، ۳۳-۵۲.
8. رفیعی، م. (۱۳۹۸). بررسی مهارت‌های تفکر انتقادئ در برنامه درسی ایران. مطالعات آموزش و یادگیری، ۷(۱)، ۱۰۱-۱۲۰.
9. صافی، م. (۱۳۸۸). مبانی برنامه‌ریزی درسی. تهران: انتشارات سمت.

10. فراهانی، ف. (۱۳۹۲). نقش تفکر انتقادئ در تربیت شهروند مسئول. فصلنامه تعلیم و تربیت مدنی، ۵(۲)، ۲۱-۴۰.
۱۱.شریعتمداري، علي. (۱۳۹۱). تعلیم و تربیت و تفکر. معاصر، شماره پنجم.

Social Sceince
AcademicJournal

لید د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# Critical Thinking and the Educational System of Afghanistan

S.T.A Noor Ahmad Emall[1] & Associate Professor Dr. Ahmad Jawid[2] Siddiqi
[1]Department of Pashto, Faculty of Education, Helmand University
[2]Department of Pashto, Faculty of Education, Balkh University
**Email:** imall1365@gmail.com

## Abstract

In Pashto writing and research, little attention has been paid to critical thinking. There is a need to consider this concept within Pashto literature, research, and, more broadly, in Afghanistan's educational and academic institutions. This gap in the Pashto language has motivated the writing of this article under the mentioned title. The article explains the concept of critical thinking and provides Pashto-based examples. The research method is bibliographic, and efforts have been made to examine the necessity of critical thinking within Afghanistan's educational system. The aim of this study is to introduce critical thinking in Pashto writing on the one hand, and to draw attention to the importance of this concept in the educational system on the other. The findings indicate that there is a serious need to foster critical thinking within Afghanistan's educational system. It is recommended that, at the undergraduate level, at least two credits of critical thinking be taught so that students can evaluate the quality of their own and others' reasoning rationally and accurately, identify strengths and weaknesses in arguments, and work on improving weaker areas while strengthening solid points.

**Keywords:** Thinking, Critical Thinking, Educational System, Pashto Writing.

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Academic Journal

**Volume:2 Issue: 1 Year:1404**